<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

# یوازې د سلطان محمد فاتح په څېر نظامي چارواکي دې خپل نظامي خدمتونه ونمانځي، چې د کفارو پر ضد جنګېږي او د اسلام لپاره فتحې کوي

د پاکستان د سمندري او هوايي ځواکونو د مشرانو د دندو غځول په مسلمانانو کې د خوشالۍ او نمانځنې وړ خبره نه وه. د امت دغه خاموشانه ځواب په حقیقت کې د دوی د مایوسۍ پایله ده. ځکه د خلافت له نسکورېدلو راهیسې له اسلامي نړۍ څخه د خپل پوځ د رهبرۍ اصلي موخه ورکه شوې ده. د خلافت پرمهال د امت سیاسي او نظامي رهبرۍ خپل مکلفیت پېژندلی و او د دوی ټولې هڅې دا وې چې خپلې سرحدې پولې پراخه کړي. خلیفه به د بشر په لاس جوړو شوو قوانینونو له ظلم څخه خلک ساتل او د اسلامي عدالت سیوري ته به يې را بلل. د جماد الاول میاشت په حقیقت کې مسلمانانو ته د سلطان محمد الفاتح په لاس د قسطنطنیې فتحه وریادي؛ هغه کس چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری يې په حقیقت بدل کړ. ده په خپل برم سره د صلیبیانو زړونه ولړزول، دوی يې له خپلو ارزښتناکو شتمنیو څخه بې برخې کړل او خلافت يې د مستحقې او مخکښې رهبرۍ په توګه نړۍ ته ور وپېژانده. نن ورځ هم زموږ نظامي رهبري د ظالم او ناروا قدرت (امریکا) په چوپړ کې ده، په داسې حال کې چې د هغو دښمنانو مخه يې باید نیولې وی، چې د القصی جومات څخه تر اشغال شوي کشمیر پورې يې زموږ ټولې خاورې اشغال کړې او مقدساتو ته مو سپکاوی کوي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** پرېږدئ چې زموږ رښتینی هدف د امت پر بدن د مایوسۍ ټپونه و پوښي، هغه ټپونه چې د اوسنیو چارواکو د بې پروایۍ او بې غیرتۍ له امله رامنځته او زهري شوي دي. راځئ خپلې هڅې یوازې د اخرت د ښېګڼو لپاره ځانګړې کړو، ترڅو په دنیا کې د بشریت د غوره امت په توګه بېرته خپل مقام ترلاسه کړو. په یاد ولرئ، موږ د نبوت پر تګلاره د هغه خلافت د تاسیس لپاره پوره امکانات لرو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يې زېری ورکړی دی. موږ پیاوړی او ځوان بشري ځواک او پراخه طبیعي سرچینې په لاس کې لرو. همداراز زموږ تر ټولو لویه شتمني زموږ ایمان دی، چې موږ د اسلامي امت د درد زغملو ته نه پرېږدي او د دفاع لپاره يې ځواک راکوي؛ ښه بېلګه يې د تېر ۲۰۱۹ م کال د فبرورۍ د ۲۷مې پېښه ده، چې زموږ یوه کوچني او منظم برید د مودي د ځواکونو وېره او ډار په ډاګه کړل. نو راشئ چې په خپلو وسلوالو ځواکونو سره د مشهور عالم عطا بن خلیل ابو الرشته تر امارت لاندې حزب التحریر ته نصرت ورکړو، چې له هغه وروسته به د خلافت برکت او ویاړ زموږ په برخه شي. خلیفه به د لویو او شریفو والیانو او جنرالانو په ټاکلو سره زموږ برخه د اسلام په تر ټولو لوی میراث کې یقیني کړي؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

[روم:۴-۵]

*__ژباړه:__ د الله سبحانه وتعالی په ورکړل شوي بري سره به په هغه ورځ (کله چې روم فتحه شي) به مومنان خوشحاله وي. الله سبحانه وتعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي، چې خوښه يې شي او هغه سبحانه وتعالی برلاسی او پوره رحم لرونکی دی.*

**حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ ق کال د جمادي الاول ۱۴مه**

**۲۰۱۹م کال، پنجشنبه، د جنوري ۹مه**

ګڼه: ۳۷/۱۴۴۱